**ليکونکو:** سمپا ت پيرا(Sampath Perera) او کايت جونز(Keit Jons)

**منبع او دخپريدو نيټه : ګلوبال ريسرچ «26-07-2019».**

ژباړونکی : **پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .**

---

# ترامپ سره له هغه چې دپاکستان لمړی وزير دهغه په بغل کی ناست دی ، ګواښ کوی چي هغه افغانستان دځمکي له مخ اويا له نقشی څخه ليری کوي

*with Pakistan’s prim Minester at his side, Trump threatens to wip Afghanistan „off the face of the Earth „*



*دونالد ترامپ دامريکي د متحده ايالاتو جمهور ريس په هغه ګډه مطبوعا تی کنفرانس کی چی د جمعي په ورځ په سپينه ما نی کی د پا کستان د لمړي وزير« عمران خان » سره ترسره کړ ، پخپل وينا کی وګواښول چي هغه دامريکي ترټولو اوږدی جګړی دزر پای ته رسيد و ته د (10) ميليونو افغا نا نو په وژلو سره ديوی هفتی په موده کي برياليتوب تر لاسه کولای شي.*

*هغه داسی څرګند کړ چی دامريکی دمتحده ايالاتو ستر قوماندان يا لوی درستيز ما ته داسی قول او قرار راکړ چي هغه که زه وغواړم کولای شی چي افغانستان دځمکی له مخ څخه ليری کړي ، ترامپ وويل چي زه غواړم چی امريکي د دغه (اتلس کلن اوږدی جګړی) څخه راوبا سم او ځما انتظا ر دادي چي پا کستان ددی ستونزی يا د جګړي په پای ته رسولو کي دحل لاری خبروته د طا لبا نو په هڅولو سره آواره کړي*

*ترامپ ادعا وکړ : مونږ لکه پليس يا ستو، مونږ په جګړه کښی ښکيل نه يو، که چيری مونږ غوښتل چي په جنګ کی دا فغا نستا ن سره جنګ وکړو اوبريا ليتوب ترلاسه کړو نو دا کار مو په يوه هفته کی کولای شو سرته ورسو او برياليتوب تر لاسه کړو اما زمونږ داره په دی کی دی چي د دی کا ر په ترسره کولو کی (لس) ميليون نفر به*

خپل ژوند دلاسه ورکړی.
**ترامپ** پخپلو خبرو کي زياته کړ اودی ټکي ته په اشا ری سره بيا ن کړ چي ځما اظهارات ممکن ديو ګواښ په بڼه په نظر کی ونيول شی حا ل داچي زه ديو لنډ اود چټک مودی لپا ره دبريالیتوب د ترلاسه کولو پروګرام لرم اوهغه په تکرار سره بيا د (لسو ملينو) نفرو دوژلو خبره رامينځته کړ اوپه عين وخت کی خپل مخ **عمران خان** ته واوړول اوهغه ته وويل چي ته له هر چا نه په دی مورد کی زيا ت پوهيږي .
د پا کستا ن لمړي وزير د **دونالد ترامپ** دهغی څرګندوني په وړاندی کوم چي هغه د پا کستان د شما لی ګاونډی په تاوتريخوالی سره د نسل کشی (تولنيز وژنه) ګواښ وه هيڅ مخا لفت اواعتراض ونکړ بلکه په غلا ما نه توګه سره د ا مريکی جمهور ريس څخه په نړي کی د يو ځواکمن جمهور ريس په توګه يا د کړ اوبيا وروسته په ډير غوړمابانه او چاپلوسی سره پخپل تويت کی د **دونالد ترامپ** څخه دهغه دکرم مېلمه پالنی څخه په ممنه تويت کړ کوم چي هغه اودهغه سره راغلی هييت ته دژوند ټول آسانتياوی برابر کړی وه .
په کابل کی دامريکی دمتحده ايالاتو په لاس جوړ شوی ګوډاګي رژيم د نا چاری اويا دمجبوريت له مخي د **دونالد ترامپ** دګواښنی وينا په اړه دواشنګټن څخه د هغه د دی غير مسولانه اظهارا راتو سپينا وی وغوښتل اوپخپل اعلا ميه کي شد يداْ اعتراض وکړ چي خارجی دولتونه او ځواکونه دا فغا نستا ن ددولت په غيا بت کی دافغانستان برخه ليک نشي ټا کلي !
اما د نړی په سرتاسرکی دافغانستان خلک خپل له احساسا تو په ډکو کرکو اوغضب سره **دترامپ** ددغه بی مسوليته اظهاراتو په مقابل کی وښودل کوم چی د ټولنيز رسنيو پواسطه سره خپور شو – اما دامريکی رسنی د **دونا لد ترامپ** پردغه بوږنونکی وينا با ندی برغولي کيښود اوهڅه يی وکړچی د هغه وينا ته يو څه کمزوری رنګ ورکړي مثلاْ دبيلګي په بڼه نيويارک ټا يمز دخپل يو مقالي په وروستيو برخو کی داسی وليکل : امريکا غواړی چی په ا فغا نستا ن کی د جګړی د زرپای ته رسيد و لپاره چی طا لبا ن دمذاکری ميز ته را وبولی خپل مخکينی تاوتريخوالی د پاکستان سره په سوله ايز ډول حل وفصل کړی اويا له مينځه ويسی. .
د **ترامپ** ددوشنبی دورځی له ګواښه ډک وروستی وينا ديو خارجی هيواد دويجاړولو په اړه خبری وه اوداسی ښودل کيږي چی دامريکی جمهور ريس دامريکی داتومی وسلی دنوی کولو لپاره ديوتريليون دلار دلګښت امر ورکړی چي دهغه سره په څنګ کی امريکا غواړی چی دمينځنی واټن هستوی سلاحګا نی له ترون څخه کوم چی مخکی د روسي سره ترون کړی وه له هغه څخه پښی را سپکی کړی اود خپل نړيوال برلاسی او هژمونی د سا تلو په منظور هڅی اوا ند جاری وسا تي.
**ترامپ** داګست ميا شت کال (2017) کی له خپل غضبه په ډک کرکه اوتاوتريخوالی سره کوم چي په نړی کی دبل چا له خوا نه وه ليدل شوی يا اوريدل شوی د (25) ميليون خوار اوغريب هيواد خلکو يعنی شما لی کوريا ته وښود اوبيا په ورته الفاظو سره دجولای ميا شت کا ل (2018) کی ايران وګواښول او پخپل تويت کي داسي

ولیکل [هیڅکله اوهیڅوخت امریکی مه ګواښوی او ددی په لټه کی مه اوسېږي کوم چي په تاریخ کی موخوځلی نورګواښلی دی نوکه چیری وغواړی چی امریکی وګواښوی یا پخپل تشو ورانونکو الفاظو مونږ په ډار کي واچوي ، فکروکړی چي امریکی دومره ځواکمن هیواد دی چی د تا سی په مقا بل کی به ودریږی او تاسی دداسی عواقبو سره به مخامخ شی کوم چي په تاریخ کی به مو نه وی لیدلي ]

دونا لد ترامپ خام او نا پخه شوی ګواښونه به هیڅکله دادولف هیټلر دنړی ددوم جګړی محرک هغه ابلتی او بیهوده ، احسا سا تي اوله غضب ډکی خبری د سړی له یا ده ونه با سی ترکومه ځایه پوری چي حتی دواشنګټن د نخبګانو (اقتدارګرایانو ) قهر هم را پارولي اوپر هغه باندی نیوکي وکړ،اما دامریکي دمتحده ایالاتو نظامی ، سیا سیی تشکیلات اونها دونه سره د دموکراتا نو ، جمهوریخواها نو تول په ورته شا ن سره د امریکی د امپریالیزم د ا قتصا دی تیتوالی د جبران لپاره د جګړی ، تا وتریخوالي اوپرنورو هیوادونو با ندی د تجاوز اودتیری کولو سره متفق القول دي .

د ا فغا نستا ن جنګ یو له هغو سلسله ناپایلی او نامعلومی جګړو څخه دي کوم چي دامریکي متحده ایالات دکال (1991) لسیزو څخه څه په سراسر دمینځنی ختیځ ، مرکزي آ سیا اوپه با لکا ن کي ترسره کوي یا ورسره مخامخ دي سربیره پرهغه اوس اوس متحده ایالات دخپل نړیوال برلاسی او هژمونی په ساتلو کي خپل استراتیژیکی میتا ستا ژی (منتشر) جرایمو ته لکه د خپل نظا می تهد ید کونکي ځواکونو په پلي کولو تجا ری جنګ اود چین – روس په مقا بل کي دا قتصا دی بند یزینو اودهستوی برلاسی غوښتنی ګواښ ته دپراختیا ورکولو اود تحمیلولو په لټه کي دي .

بی له شکه په اوسنی حا ل کي افغا نستا ن دعمران خا ن د پا کستا ن لمړی وزیر، دپاکستان ستر درستیز جنرال قمر باجوړی ، جنرال فا یز (حمید) د بدنام (آی اس آی ) مشر، د دونا لد ترامپ اودامریکی دلوړپوړو چارواکو سره دلید نی – کتنی ا و د بحث اود مذ ا کری اصلی اجندا ا و موضوع دي او دامریکي جګړه اوشخړی د ایران یعنی دپاکستان لویدیځ ګاونډی سره هم دنوموړو دخبرو اود اجندا یوه برخه وه کوم چي دپاکستان اودهغه سره ګډ پاکستانی لوړپوړی هییت وروسته له ینځه کا لو څخه دلمړي ځل لپا ره واشنګټن ته د خبرو لپا ره دعوت کیږي .

**آیا په ریښتیا سره ترامپ غواړی چي ا فغا نستا ن د خمکی له نقشی اویا له مخی څخه پا کی کړي ؟ ( خطرنا ک بحث) هیڅ شي به نه وي چي امریکي ونشی کولای ؟**
ترهمدی عنوان لاندی ځما پواسطه سره ژبا ړه شوی مقا له په سپرغي او اریا یي ویب سایت کي وګوری............ داکتر (مل)

په تیره میا شت کي دامریکي دمتحده ایالاتو نظامی او هوایي قوتونه او الوتکي پرایران با ندي یوازې لس دقیقی د بم غورځولو اود حملی واټن په درشل کی وه چی دونا لد ترامپ له ډار کوم چي دامریکی نظا می ځواکونو ایران سره په جګړه کي کا فی چمتوالی نه لری او هم له دی وجهی څخه چي موضوع سمدلاسه په مینځنی ختیځ کی اشاعه نشی او د نړی د نورځواکمنو هیوادونو پا م راجلب نشی نو خپل نظامی قوتونو

ته دستور ورکوی چي پر ایران با ندی حملی ته توقف ورکړي
پا کستا ن دامریکي له طرفه پرایران با ندي داقتصادی بند یزونو په وضع کولو باندی چی دا پخبله دجګړی مفهوم لری خپل سر دموافقی اویا دهوکي په علامی سره وخوځوه او پاکستان یو ځل بیا دایران د طبعی ګا ز د پایپ لاین د واردولو په اړین پر هغه له یاده وتلی طرحی با ندی پام واچول اما پنتا ګو ن اود امریکي (سی آی اي ) پر پاکستان با ندي کوم چی پا کستا ن دسعود عرب سره نژدی اړیکی لری او سعودی هم دایران سره مخا لفت لری فشارواچول چي پا کستان خپل خا وره که چیری امریکا پر ایران باندی نظامی عملیاتونه تر سره نکړی دامریکی د نظا می قوتونو د تمرین او د پرکتس د پاره په اختیا رکی واچوی .

## دامریکي دامپریالیزم افتضاح اویا ماتی د افغانستان په جګړه کي :

د **دونا لد ترامپ** ادعا چی د امریکی متحده ایالات په ا فغا نستا ن کي جنګ نه دی پیل کړی خپله یوه تش او بی بنیا د ادعا دي اودا ځکه چی متحده ایالات د (اتلس) کا لو په اوږدو کي ا فغا نستا ن ته په سلونو زرو سرتیری ، ټا نکونه ، او جنګي الوتکي لیږلي دي کوم چی هلته په افغا نستا ن کی شخړی بی شما ر تاوتریخوالی او بوږنونکي حالات را مینځته کړي اویا داچي ددی تولو ظلمونو د سرته رسولو مرتکب شوی دي کوم چی یو له دی تاوتریخوالي څخه **ددونالد ترامپ** تر زعامت لاندی په کا ل (2017) کی دغیر هستوی لوی بمب چی د بمونو د مور په نوم سره یا د یده په افغانستان کي وکا رول.
له بلی خوا څخه په دی روانه جګړه کي دځنی تخمینی اودمحافظه کارانه اټکلونو په اساس (175000) تنو ته مرګ ژوبله اړول شوی دی یا دمرګ ژوبلی لامل شوی دي اوکه چیری دهغه غیر مستقیم مرګونو شمیر د پورتنی رقم سره یوځای کړ شی نو په هغه صورت کی به د مړو شمیر نژدی یوملیون کسو ته به ورسیږي کوم چي په دی جګړه کی خپل ژوند دلاسه ورکړي دي او د دی ټولو ارقا مو په څنګ کی په حدود د (2300) امریکا یی سرتیری او تقریباُ (1100)خارجی سپاهیا ن هم په دی جګړه کی خپل ژوند دلاسه ورکړي دی اوددی ټولو بدمرغیو په څنګ کی په میلیونو افغانانو له خپل کورونو څخه هم بی ځا یه شوی دي .
طا لبا نو اوس لا هم دامریکی دمتحده ایالاتو دیرغل څخه چي په کال (2001) په مینی کی پر افغانستان باندی نظا می تهاجم وکړ له هغه وختنه څخه دا فغا نستا ن ډیری برخي ترخپل ولکی لاندی راوستی دي
سره له دی چې طالبان دخپل اسلامی افراطی ارتجاعی ایدیولوژی په لرلو سره دامریکی دمتحده ایالاتو د تهاجمی ځواکنو د ډزو او دګولیو دچلولو په مقابل کی خپل نا فرمانی او بغاو ت ته دوام ورکړی او لا اوس هم دوام ورکوی دهغه اصلی د لیل دادی چی دافغانستان ننی جګړه په مرکزی آسیا کی **دامریکی – نا تو** پوری تړلی دیو نوی استعما ری یرغل په نوم سره پیژند ل شوی جګړه دي او هم په کابل کي یولاس ناستی فاسد رژیم چی دهغه د حا کما نو په ترکیب کی د جګړی مشهور ګټی اخیستونکي ،

قبیلوی سنتی مشران اود ا فغا نستا ن ځنی ګڼ شمیر دودیزی نخبګان (اقدارا کرایان او جنګ سالاران ) شامل دی .

دافغان په جنګ کې د (اتلسو ) کلونو جګړو څخه وروسته دواشنګټن نا څا پی اوبی شرمه نا کا می سره د یوتریلون دلار ما لی لګښت اوس د امریکی د متحده ایالاتو په سیا سیی – نظا می استراتیژیکی موسسا تو اوکړیو کی ځنی خورا مهم اختلافات را مینځته شوی دي .

**ترامپ** په دی لټه کي دي چی طالبان مذاکری او خبرو ته را وهڅوی ترڅو چي په دی ډول که واشنګټن وشی کړی چی خپل نظامی ځواکونه له افغانستان څخه وباسی او په نور ځا یونو کی د هیوادونو د طبعی زیرمو دتر لاسه کول لپا ره نوموړی نظا می متجاوز ځواکونه ولیږی خصوصاً ایران ، ونزویلا ا ود امریکی د امپریالیزم ځنی نور ضد هیوادونو ته .

په هر صورت دامریکی دمتحده ایالاتو زیات حاکم اوپر سراقتدار نخبګان اوپه تیره بیا په امنیتی دستګاه کي په یو اوبل ډول داسی دلیل راوړي اویا په دی باور دی چي په ا فغا نستا ن کی هر جوړ جا ړی چي راځی نو دهغه په سرکی عمده موضوع با ید دامریکی ددوامد ارنظا می شتون تضمین کړشی اوداځکه چي داموضوع د ستراتیژیکی له پلوه امریکی ته دپا م وړ حیا تی اهمیت لری ځکه چی افغنستان دمرکزی آسیا په زړه کی یوله هغه خورا شتمن هیوادونو څخه دی چی دانرژی او دمعد نونو په لرلو سره بډا هیواد دي . اوهم دایران اودچین سره نژدی مشترک پولی اودروسیی سره ګاونډ دي .

## د پا کستا ن اود امریکي د متحده ایالاتوداړیکوڅخه پرده پورته کول

واشنګټن له ډیر مودي راهیسی غوښتنه کوی اویا په دی هڅه اواند کي دی چی پاکستان پرطا لبا نو باندي خپل نظا می اوسیا سي فشا ر زیا ت کړی تر څو چي له دی لاری څخه وشي چي د جنګ منا سب شرایط ځا نته چمتو کړی کړي اویا داچي پاکستان – واشنګټن ته په افغا نستا ن کی دجګړی منا سب شرایط غوره او تضمین کړي .

د پاکستا ن نظا می امنیتی اداره یا دستګاه په کال (1980) کی د(سی آی ای) ترملاتړ لاندی افغا نی مجاهید ین کوم چی د شوروی اتحا د پروړاندی دامریکی دیوی پلوی په صفت جنګید ل خپل بشپړ نقش ولوبول او وروسته بیا له هغه د طا لبا نو دقدرت دلا زیاتید و لپاره خپل پوره ملاتړ ترسره کړ .

اما د پا کستا ن پوځ د (سی آی ای) په دفترچه یا کتا بچه کي د طا لبا نو سره د نه اړیکو یا د انکا رپه لیکلو اوپه سپینا وی سره داډ ترلاسه کړچي اسلام آباد دهرسیاسیی جګړی په پا یله کی دجنګ د ختمید و لپا ره یوه وینه یا یو جوړ جا ړی لري .

داسلام آباد اود واشنګټن داړیکو کمښت اویا ترینګلتیا هغه وخت ظاهرشو کله چی واشنګټن په سهیلي آسیا کی دهند سره دیو اصلی متحد په عنوان ځیل بنه اړیکو ته وده ورکړ اوهغه هم په دی هدف چی هند دخپل مخالف هیواد یعنی د چین سره دمخا لفت په لمړی کربنه کي ځا ی پر ځای کړي نو په همدی وخت کی دی چي اسلام آباد دخپل امنیت اویا د خپل ګټو دتامین لپاره په ا فغا نستا ن کی فکر وکړی اوهم دپکن سره دخپل مخکینی تاریخی نظامی امنیتی مرستو ته پام واړوی کوم چی دهغه یوه بیلګه

همدغه د پا کستا ن اود چین اقتصادی دهلیز دی چی دهغه داحداث لپا ره (60) ملیارد دلارولګول شو اوهمدغه وجهه وه چی داسلام آباد اود واشنګن ترمینځ دتاوتریخوالی کچه لوړ شو .

**په تیره لسیزه اوبیا په ځانګړي توګه له (2011) کا ل را په دی خوا دمتحده ایالاتو اود پا کستان ترمینځ اړیکی ترینګلی شوی دي.**

**عمران خان** لکه دخپل مخکینی (سلف) **نواز شریف** په څیر له د یر اوږد مودی څخه په دی هڅه اواند کی وه چی دامریکی سره له سره خپل اړیکی برقرارکړی نودهمدی اصل له مخي پر واشنګتن باندی فشار اچول چی هغه ته بلنه ورکړی چی امریکی ته لاړ شی اودهغه هیواد دلوړ پوړو چاروا کو سره دبیا له سره اړیکی داسی برقرار کړی چی د چین اودهغه هیواد سره اړیکی یی په تعادل اوموازنه کی برقرارشي .

تیر میا شت دامریکی تر تسلط لاندی دپیسو بین المللی صندوق (IMF) موافقه وکړ چی پاکستان ته بیړنی پور ورکړي .، همدارنګه اسلام آباد دواشنګتن له هغه ملا تړ څخه کوم چی امریکا دسپتمبر میاشت کال ( 2016 )اودهمدی کال په فبروری میاشت کی خپل نظا می عملیا ت ( داصلی هدفونو ویشتل) دنوی دهلی په غرونو کی تر سره کړاوپه جنوبی آسیا کي سیالی اتومی وسله وال ځواکونه دجګړی په څنډو کی ودرول حیران اوپه تشویش کی واچول .

آیا په ریښتیا سره امریکی ته **دعمران خان** سفر دپا کستا ن اودامریکي دمخ په خرابید و اړیکو مخه به ونیسی کوم چي دهغه پا یلی ممکن وروسته معلوم به شي .

**ترامپ** دعمران خان دغوښتنی او استدعا په مقابل کي چی هغه دافغانستان دجګړي دایتلاف ځواکونود سمد ستی تا د یا ت (پرداختونه) او نور کمکونه شامل وه مقاومت وکړ اوداسی څرګند کړ : چي زمونږ اوسنی اړیکي دهغه وخت داړیکو په پرتله چي مونږ تاسو ته پیسی ورکول ډیر ښه دي . هغه یعنی **ترامپ** د خپل خبرو په دوام کي وویل : که چیری پاکستان دواشنګتن امر (دیکتات) ومنی اویا مونږ ته تعهد راکړی هغه څه چی مونږ وایو او پاکستان بیا هغه تر سره کړي نو په هغه صورت کی مونږ به خپل پالیسي ته دپاکستان سره دکمکونو په برخه کي بدلون ورکړو **ترامپ** همدارنګه زیاته کړ البته چي پاکستان پرهغه څه چي مونږ وربا ندی کا ر کوو که چیری مونږ سره په دی برخه کي توافق وکړي نو ددی امکان شته دی چي هغه ټول مخکینی موارد بیا له سره ترنظر لاندی به ونیول شی .

**ترامپ** له **عمران خان** څخه خوښی ښکاره کړ له دی نه چي **عمران خا ن** له **ترامپ** څخه وغوښتل چي دکشمیر دستونزی دحل لپاره چی د پا کستان اود هند ترمینځ یو ډیر مخکینی کشا له دی شخصاً مینځګړیتوب وکړي ، داهغه څه دي چي پاکستان له لس ګونو کلونو څخه په دی هڅه اواند کي دي چي د کشمیر د ستونزی د حل وفصل لپاره دلاری د میند و په اړه خا رجی ځواک اوبیا په ځا نګړي توګه واشنګتن دهند سره دخپل اختلافاتو د حل لپا ره را ښکیل کړي .

**د د ونا لد ترامپ** هغه وروستي اظهارات چی ګویا دهند صدراعظم **مودی** له هغه څخه غوښتی دی چی دپاکستان سره دهند دکشمیر پر سر دهغه لانجي د حل لپا ره

دی شخصاً مینځګړیتوب وکړی ، هغه اظهارات وه چي په نوی دهلی کی یوډیر سیا سیی توفان ته لمن ووهل اوهمغه وه چی نوی دهلی په ډیر بیړه او پوره عصبا نیت سره د **دونالد ترامپ** خبری رد کړ او وویل چی **مودی** هیڅکله داسی غوښتنه له **دونا لد ترامپ** څخه نه دی کړی بلکه دا دهغه له خوا یو تهمت دي .

اما دهند سیا سی حا کمی حلقی له دی امله چی هند ته چا د طا لبا نو سره دمذاکراتو په اړه کوم چي په اصطلاح سره دا فغا نستا ن د موجوده ستونزی دحل وفصل دلاری مینډ ل دی بلنه نه دی ورکړی چی هند هم په دی روند کی ونډه واخلی ډیرنګران او په تشویش کی دي .

اما د بلی خوا څخه دهند صدراعظم **مودی** هم لکه **دعمران خان** په څیر **دونا لد ترامپ** دهغه ګواښ په مقا بل کي چي **ترامپ** غواړی چی ممکن د هستوی سلاح په کاروړلوسره (لس ) میلونه افغان ووژنی او ا فغا نستا ن دځمکی له مخ څخه پاک کړي چپه خوله پا تی شوی او هیڅ ډول غبرګون نه دی ښودلي .

---------------------------------- **په سلامونو** « **2019-07-31** »